انجنير سلطان کليوال ٢٠٢٠/٠٥/٢٤

# اختر ته دوه غزلې

اخـتـر دی مبارک شي هر بچي ته د افغان
رنـا دې وي تـل بـلـه پـه کوڅه کي د جانان

اخـتـر دې بخـتـور شي وي خوښی دې همیشه
په مینـه دې مـاړه وي که واړه وي که ځوانان

اختر دي هره ورځ وي هره شپه دې وي اختر
وي سوله دې برلاسي ډېـر دې نـه شي يتيمان

ژوندی دې محبت وي مړه دې وي کرکه نفرت
انسان دې زهـير نه شـي نـور د لاسه د انسان

دا کلي دې ودان وي کلـيـوال دې وي ارام
وي خلاص دې له کړاوه دا زمونږ افغانستان.

**** **** ****

اختره که راځې، نو د جانان کلي ته راشه

یوځل لکه پخوا، بیا د افغان کلي ته راشه

ولاړ درته په لار کې دي بې پلاره ما شومان

هر چا په مخ وهـلي، یتیمان کلـي تـه راشه

وران کـړی زور اورو، څوکرت د مینې کور

ودان ګوندې په تاشي، دغه وران کلـي ته راشه

لوګی ترینه ختلی خو، خرخ شوی په چا نه دی

ایمان په کې ژوندی دی، د ایمان کلي ته راشه

بیګا یې هـم ژړلـي، تر نا وخته پـوري ډیـر

چې و خاندي یو بل ته،ما شومان کلی ته راشه

راټول د کلي بن کې، په خوښی کړه کلیوال

چې غاړه په غړی شي، عزیزان کلـي ته راشه

اګست۲۰۱۹

یادونه: که چیری ګران لوستونکي و غواړی چې د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لاړ ښودنه تر لاسه کړی!

اختر ته دوه غزلی

s_kliwal_akhtar_ta_dowa_ghazaley.pdf